www.gmic.gov.af

# آرګ پانه

شپېتمه ګڼه



صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د عامه او ستراتيژيکو اړيکو معاونيت، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نېټه: شعبان المعظم ۱۹مه، کال ۱۴۴۶ هجري قمري


## عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله‌تعالی

## د کندهار پوهنتون استادانو، کارکوونکو او محصلانو ته په یوه لويه غونډه کې وينا وکړه

د افغانستان اسلامي امارت زعیم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ القران والحديث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالی د کندهار پوهنتون څخه لیدنه وکړه او په لومړي ځل يې د پوهنتون له رهبري غړو، استادانو، کارکوونکو او محصلانو سره د ليدني ترڅنګ هغوی ته هر اړخيزه وينا وکړه.

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی په پيل کې د علم پر ارزښت او د ديني او عصري زده کړو د اهميت په اړه خبرې وکړې او استادانو او محصلانو ته يې لارښوونه وکړه، چې دواړه علوم په اخلاص سره زده کړئ، خپل نيت يوازي د الله تعالی د رضا له پاره وساتئ او د خپل علم په مرسته دين او خلکو ته ګټه ورسوئ...

۲

## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د قطر هېواد له رئيس الوزراء سره وکتل

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند قطر هېواد ته د خپل سفر په ترڅ کې د قطر هېواد له رئيس الوزراء ښاغلي محمد بن عبدالرحمن آل ثاني سره وکتل...

۲

## د کډوالو ستونزو ته د رسيدګي عالي کمېسيون غونډه جوړه شوه

د کډوالو ستونزو ته د رسيدګي عالي کمېسيون غونډه د رياست الوزراء اداري مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشري او د ياد کمېسيون د محترمو غړو په ګډون ترسره شوه...

۵

## په فراه کې څلور زره کورنۍ له برېښنا برخمنې شوې



د فراه ولايت د برېښنا شرکت مسئولين وايي چې د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو وروسته په دغه ولايت کې ۴ زره کورنۍ له برېښنا برخمنې شوې دي...

۲

## اعلامیه امارت اسلامی در پیوند به ۲۶ دلو سالروز خروج قشون سرخ شوروی از افغانستان

بسم الله الرحمن الرحیم

۲۶دلو مصادف به ۳۶مین سالروز شکست و خروج قشون سرخ اتحاد شوروی سابق از افغانستان می‌باشد...

۲



## وزارت فوایدعامه قرارداد ۳۱.۶ کیلومتر سرک اتصالی میدان وردک و لوگر را با دو شرکت خصوصی امضاء کرد


۵


## هرات امسال به ارزش نزدیک به ۲۵ میلیون دالر پسته صادر کرده است



۲

## د قوش تېپې کانال د دويم فاز د کيندني چارې ۸۷ سلنه او د سربند جوړولو چارې ۷۵ سلنه بشپړې شوې دي







د امارتي شرکتونو لوی رئيس محترم مولوي احمد جان بلال، د ملي پراختيا شرکت عمومي اجرائيوي رئيس محترم عبدالرحمن عطاش او مل پلاوي د هېواد شمالي ولايتونو ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د قوش تېپې ستر او ملي کانال له سربند، دويم فاز او د کانال په مسير کې د پلونو جوړولو له روانو چارو څخه لیدنه وکړه.
په دې ليدنه کې محترم مولوي احمد جان بلال د قوش...

۵

## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت له آريانا افغان او کام اير هوايي شرکتونو سره د حاجيانو د لېږد او رالېږد تړون لاسليک کړ



۵

## له رسنيو سره د حکومت د همغږۍ حياتي رول

رسنۍ د ټولنې د سترګو او غوږونو په توګه، د اطلاع رسونې، پوهاوي او حقايقو خپرولو برخه کې مهم او حياتي رول لوبوي. له رسنيو سره د حکومت همغږي نه يوازې د اطلاعاتو له شفافيت سره مرسته کوي، بلکې د عمومي باور د پياوړتيا زمينه هم برابروي. کله چې حکومت له رسنيو سره رغنده او د همکارۍ پر بنسټ ارتباط ټينګ کړي، نو مهم پيغامونه او لويې پرېکړې په وخت او کره ډول تر خلکو رسېږي.

له بلې خوا، رسنۍ د عامه افکارو د سنجش او د ټولنې د نظرونو ترلاسه کولو مهمې وسيلې دي. حکومت له دې ظرفيت نه په ګټې اخيستنې سره کولی شي، چې د خلکو له اړتيا سم خپل سياستونه او پلانونه تنظيم کړي او په حساسو وختونو کې د شايعاتو له خپرېدو څخه مخنيوی وکړي. په همدې اساس، د حکومت او رسنيو ترمنځ متقابل تعامل او همغږي نه يوازې يوه اړتيا، بلکې د دوامداره ټولنيز پرمختګ او پراختيا ضامن هم دی.

مولوي نعيم الحق حقاني
د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

## د افغانستان او قزاقستان د سوداګرو د ستونزو پر حل خبرې وشوې

۲

## د څه باندې شپږ ميليونه ډالرو په پانګونې سره، د کندهار د دره نور مرمر ډبرو پروژې تړون لاسليک شو

۲

سرمقاله

# نوی خیرخواه مارکیت؛ پروژه برجسته تجاری در قلب کابل

نوی خیرخواه مارکیت یکی از پروژه‌های برجسته تجاری در قلب شهر کابل است که با هدف ارائه تجربه‌ای نوین از خرید و تجارت به شهروندان و تاجران افغان تأسیس شده است. این مارکیت در جاده نادر پشتون واقع شده و با امکانات مدرن و وسیع خود، به یکی از مراکز مهم تجاری در پایتخت تبدیل شده است.
این کمپلکس تجاری با مشارکت عامه و خصوصی و با سرمایه‌گذاری حدود ۳۴ میلیون دالر امریکایی در مساحت بیش از ۹۳۶۱ مترمربع اعمار گردیده است.
کمپلکس متذکره دارای حدود ۱۳۰۰ دکان و دفتر، پارکینگ با ظرفیت حدود ۱۸۰۰ عراده موتر، مسجد با ظرفیت حدود ۱۸۰۰ نمازگذار در یک وقت، رستورانت، ساحه سبز و اماکن مناسب ورزشی و تفریحی ساخته شده است. نوی خیرخواه مارکیت طور مجموعی در ۹ طبقه اعمار گردیده، چنانچه دو طبقه آن برای پارکینگ وسایط و هفت طبقه دیگر برای دفاتر و دکاکین اختصاص یافته است.
کار اعمار این کمپلکس پس از حاکمیت دوباره امارت اسلامی در شهر کابل آغاز شد و پس از گذشت حدود سه سال به اتمام رسید. بر اساس تصمیم جلسه کابینه امارت اسلامی افغانستان، این پروژه برای مدت ۳۰ سال به سکتور خصوصی تعلق داشته و پس از آن به دولت واگذار می‌شود.
این کمپلکس تجاری بتاریخ ۲۳ دلو سال ۱۴۰۳ هجری شمسی، طی مراسمی با شکوه و با حضور مقامات عالی رتبه امارت اسلامی افغانستان، اعضای کابینه، مسئولان ارشد سکتور خصوصی، تاجران و سرمایه گذاران ملی، و نمایندگان ارشد ادارات مختلف، افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.
در محفلی که به مناسبت افتتاح این کمپلکس تجاری تدویر گردیده بود، مسئولان اعمار این کمپلکس را نمونه‌ای بارزی از مشارکت و همکاری متقابل دولت و سکتور خصوصی بیان داشتند.
مسئولان امارت اسلامی تاکید ورزیدند که رشد اقتصادی و ترقی یک کشور وابسته به رشد سکتور خصوصی بوده، و امارت اسلامی همواره از سکتور خصوصی حمایت کرده و طی سه سال اخیر تلاش ورزیده تا شرایط و تسهیلات لازم را برای سرمایه‌گذاران و رونق هرچه بیشتر فعالیت‌های سکتور خصوصی فراهم سازند.
مسئولان ارشد سکتور خصوصی، تاجران و سرمایه‌گذاران ملی نیز از حسن نیت و همکاری امارت اسلامی در خصوص فراهم ساختن تسهیلات و شرایط بهتر سرمایه‌گذاری در کشور ابراز خرسندی نموده و بر سرمایه‌گذاری‌های بیشتر و تطبیق پروژه‌های مشابه در کابل و ولایات تاکید ورزیدند.
در این مراسم، محترم مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری ریاست الوزراء، محترم مولوی عبدالمنان عمری، سرپرست وزارت کار و امور اجتماعی، محترم داکتر ملا عبدالواسع خادم، رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزرا و شماری از اراکین بلند رتبه امارت اسلامی سخنرانی نموده افزودند: رشد اقتصادی و ترقی یک کشور وابسته به رشد سکتور خصوصی بوده و امارت اسلامی همواره و با قاطعیت از سکتور خصوصی و سرمایه گذاری در کشور حمایت نموده است.
آنان افزودند، ساخت این کمپکس نمونه‌ای بارزی از همکاری، حسن نیت و کار مشترک دولت و سکتور خصوصی بوده و مبین آنست که با کار مشترک می‌توان نتایج ملموس و مشهودی را بدست آورد. آنان همچنان اضافه کردند که، در این کمپلکس برای متضررین که دکاکین شان قبلاً حریق گردیده بود، اولویت داده شده است.
به گفته مسئولان، نوی خیرخواه مارکیت، یک پروژه بزرگی است که طی آن فرصت‌های کاری و اقتصادی برای تعداد زیادی از هموطنان فراهم شده و تطبیق چنین پروژه‌ها ثابت می‌سازد که اکنون افغانستان به یک مکان مناسب سرمایه‌گذاری و فعالیت‌های تجاری، مبدل شده است.
مسئولان در اخیر، از تمامی دست اندرکاران که در تطبیق موفقانه این پروژه مهم و حیاتی سهم گرفته اند، ابراز قدردانی نموده و از همه تاجران و سرمایه‌گذاران افغان خواستند در افغانستان سرمایه‌گذاری کنند و در عمران و آبادانی کشور گام‌های عملی بردارند.
نوی خیرخواه مارکیت، با ارائه محلات ویژه با امکانات مدرن و رفاهی تجربه‌ای متفاوت از خرید و تجارت را برای بازدیدکنندگان فراهم می‌کند. این مارکیت با طراحی عصری و معیاری، نظرداشت استاندردهای جهانی و امکانات پیشرفته، به یکی از مقاصد اصلی خرید و تجارت در کابل تبدیل شده است.#

**نویسنده: حشمت ناصری**

# عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی

## د کندهار پوهنتون استادانو، کارکوونکو او محصلانو ته په یوه...

...هغه همداراز استادانو او محصلانو ته په خطاب کې وویل: ګورئ استادانو او محصلانو، تاسو هم دیني او هم دنیوي زده کړې وکړئ، نیت مو یوازې د دین خدمت وګرځوئ؛ ځکه چې په ټولنه کې تاسو ډېر قدر لرئ، ټولنه د مدرسې، مکتب او پوهنتون طالب العلمانو ته په ډېره درنه سترګه ګوري او تاسو ته د خدمت هیله لري؛ په دې هېواد کې په څو واره کفار راغلي او شکست یې خوړلی؛ خو اوس الحمدلله افغانستان د اسلامي او آزاد نظام په رڼا کې پرمختګ کوي. عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی همدارنګه زیاته کړه، له تاسو څخه مو غوښتنه ده، چې د خپل هېواد د شهیدانو، مبارزینو او قهرمانانو تاریخونه ولیکئ او په نړیواله کچه یې معرفي کړئ؛ ځکه مجاهدینو په سختو حالاتو کې د الله تعالی په نصرت سره دا هېواد ازاد کړ او اوس ستاسو وار دی، چې د خپل علم او پوهې پر مټ افغانستان په نړۍ کې سیال کړئ او دومره زحمت وګالئ، چې بهرنیان دلته راشي، ستاسو څخه زده کړه وکړي او د خپل علم په مرسته پر نړۍ حکمراني وکړئ.
عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په خپلو خبرو کې وویل چې افغانستان د ټولو ګډ کور دی او هر یو له تاسو څخه په دې نظام کې ځانګړی ځای لري، هغه همدا شان وویل چې افغانستان اسلامي امارت تاسو ته د خیر اراده لري؛ مدرسه او پوهنتون سره نور یو دي او د دواړو علمي ادارو ساتنه او حمایه پر موږ لازمه ده. عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د خپلو خبرو پر دوام زیاته کړه، چې د افغانستان اسلامي امارت د علم پرمختګ لپاره ټولې اسانتیاوې برابرې کړې دي او موږ د لوړو زده کړو وزارت ته ویلي؛ که په هر قیمت بهرني استاد دلته راځي او د افغانستان په پوهنتونو کې استادي کوي؛ ور یې کړئ، خو د هېواد ځوانان په مسلکي ډول وروزئ.
هغه د غونډې ګډونوالو ته وویل، چې تاسو علمي خلک یاست، د دې هېواد پرمختګ، یووالي او اتحاد له پاره کار وکړئ او د خپل ملت خدمت په رښتني ډول ترسره کړئ. عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی وویل، چې هر فرمان یې د علماء کرامو په مشوره، د قرآن او حدیثو څخه اخیستل شوی او د خدای تعالی اوامر دي. د هغه په وینا که په دې فرمانونو کې یوه خبره د اسلام خلاف وه، مه یې منئ.
د یادونې وړ ده چې یاده غونډه د کندهار پوهنتون په جامع مسجد کې جوړه شوې وه چې ګڼ شمېر محصلین، استادان، او د دغه پوهنتون کارکوونکي، یې ګډون وال وو.#

# اعلامیه امارت اسلامی در پیوند به ۲۶ دلو سالروز خروج قشون سرخ...

...امارت اسلامی افغانستان این روز را یک روز پرافتخار در تاریخ افغانستان و شکرگزاری از الله جل جلاله میداند و به این مناسبت به تمام برادران مسلمان و مجاهد خود تبریک می‌گوید.
جهاد، مبارزات، قربانی ها، هجرت ها و تکالیف تمام افغان ها و مسلمانان در برابر اتحاد شوروی سابق سبب گردید که الله تعالی به افغان ها این افتخار را نصیب کند که قدرت بزرگی مانند اتحاد شوروی سابق را مجبور به فرار از خاک خویش نمایند.
اینکه که افغانستان برای سومین بار در صد سال اخیر به نصرت الله جل جلاله از اشغال آزاد شده، نمایانگر این که حس استقلال طلبی در میان افغان ها قوی است و مسلمانان ما عزم و تعهد قوی برای حراست از دین خود دارند.
از تجاوزات پی در پی در صد سال گذشته و موفقیت های جهاد در برابر آن، باید جهت های متجاوز عبرت بگیرند و دیگر علیه آزادی و حریت ما گام برندارند.
مردم مسلمان و غیور افغانستان باید مانند گذشته در آینده نیز در برابر انواع توطئه ها و دسیسه ها بیدار باشند و با حفظ عزم قاطع و وحدت اسلامی راه نیاکان خود را تعقیب نموده و دین، عقیده و استقلال خود را حفاظت نمایند. والسلام

امارت اسلامی افغانستان

۱۵/۸/۱۴۴۶هـ ق

۲۶/۱۱/۱۴۰۳هـ ش. ۲۰۲۵/۲/۱۴ م

# په فراه کې څلور زره کورنۍ له برېښنا برخمنې...



...د یاد ولایت د برېښنا شرکت د عملیاتو مدیر صلاح‌الدین وویل: اوس مهال د ښار ۵ ناحیو اوسېدونکو ته برېښنا برابره شوې او په نږدې راتلونکي کې به د یو بل ترانسفارمر په لګولو سره د فراه ښار ۶ نورو ناحیو اوسېدونکو ته هم برېښنا برابره شي.
د مسئولینو په خبره، فراه ښار کې د برېښنا برابرول د سیمې د خلکو پر ژوند او اقتصادي فعالیتونو مثبته اغېزه کړې ده.#



# د افغانستان او قزاقستان د سوداګرو...



...د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست محترم الحاج نورالدین عزیزي، په کابل کې د قزاقستان جمهوریت له سفیر ګزیز اکباسوف سره کتلي دي.
په دې کتنه کې دواړو لوریو په الماتا ښار کې د افغان سوداګرو لپاره د یوه سوداګریز مرکز د جوړېدو، د دواړو هېوادو د سوداګرو ترمنځ د قراردادونو په تړاو د ترسره شویو ژمنو د عملي کېدو، په افغانستان کې د قزاقي سوداګرو د پانګونې او په کابل کې د قزاقستان سفارت له‌خوا افغان سوداګرو ته د ویزو صادرولو په برخه کې د اسانتیا رامنځته کېدو په اړه بحث او خبرې کړې دي.
د کتنې په پای کې، د دواړو هېوادونو د سوداګرو د ستونزو د حل پر لارو چارو هم خبرې شوې دي.#



# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د قطر هېواد له رئیس الوزراء...

...په دې کتنه کې د افغانستان او قطر هېواد ترمنځ د اړیکو او اقتصادي مسائلو او د حکومت او خصوصي سکتور له لوري د پانګونې د موضوعاتو په اړه بحث وشو.#

# د څه باندې شپږ میلیونه ډالرو په پانګونې سره، د کندهار د دره نور مرمر ډبرو پروژې...

...د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست محترم ملا هدایت الله بدري، د امي اوغلو ترکي شرکت له مرستیال موسی امي اوغلو سره، د کندهار د دره نور مرمر ډبرو سترې پروژې تړون په کابل کې لاسلیک کړ.
دغه تړون د لسو کلونو لپاره دی او پر بنسټ به یې یاد شرکت د ۶.۲ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت پانګونه وکړي او د معیاري اکتشاف، استخراج او پروسس چارې به ترسره کړي. د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست، په همدې مناسبت جوړه شوې غونډه کې وویل: د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره، د کانونو او پټرولیم وزارت د مرمر ډبرو د زیات شمېر کانونو تړونونه لاسلیک کړي چې اوسمهال یې چارې په پوره روڼتیا او چټکتیا سره روانې دي.
همدا رنګه، د «امي اوغلو» شرکت مرستیال، وویل چې یاد شرکت د مرمر ډبرو، نفت او ګازو کانونو د استخراج او پروسس په برخه کې ۵۰ کلنه تجربه لري. هغه ژمنه وکړه چې له تولید او پروسس وروسته به د افغانستان د مرمرو ډبرې په نړیواله کچه معرفي او ځانګړې پېرودونکي ورته پیدا کړي.
د یادولو وړ ده چې د دې پروژې په پیل سره به سلګونو کسانو ته د کار زمینه برابره او د سیمې اوسېدونکو ته ګڼ شمېر ټولنیز خدمتونه وړاندې شي.#

# هرات امسال به ارزش نزدیک به ۲۵ میلیون دالر پسته...

...اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری هرات می‌گوید که در سال روان، به ارزش نزدیک به ۲۵ میلیون دالر، پسته به بیرون از کشور صادر شده است. به گفته مسئولان، صادرات پسته امسال از ولایت هرات در مقایسه با سال پار، ۲۱ درصد افزایش را نشان می‌دهد.
در سوی دیگر اتاق زراعت و مالداری هرات می‌گوید که برداشت پسته امسال در این ولایت به‌گونه‌ی چشم‌گیری افزایش یافته است. اتاق زراعت و مالداری افزود که امسال بیشتر از هفت هزار تن پسته در این ولایت برداشت شده است. بر بنیاد آمارها، بیشتر از ۹۰ درصد پسته کشور از جنگلات للمی هرات، بادغیس و برخی ولایت‌های شمال به دست میاید.#




Issue #60

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
+93 (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foreign Affairs, Kabul, Afghanistan


# Acting Minister of Public Works Signs Contract for 31.6 km Connecting Maidan Wardak and Logar Provinces

Haji Mullah Mohammad Isa Sani, the Acting Minister of Public Works, has signed a contract for the construction of a 31.6-kilometer connecting road between Maidan Wardak and Logar provinces, with a total value exceeding 713 million Afghanis. The project will be implemented in two phases with two different construction companies.

The road will span 31.6 kilometers and will include the construction of 120...ContP#4

# Qush Tepa Canal Project: 87% of Excavation and 75% of Dam Construction Completed



During an official visit to northern Afghanistan, Mawlawi Ahmad Jan Bilal, the CEO of Amarti Companies, alongside Abdul Rahman Atash, the CEO of the National Development Company, and their respective delegations, inspected the ongoing work on the Qush Tepa Canal Project, which includes the dam construction, the second phase...ContP#4

# Herat Exports Pistachios Worth Nearly $25 Million



The Herat Chamber of Commerce and Investment reports that pistachio exports from the province have reached a value of approximately $25 million in the current year. According to officials, this marks a 21% increase in pistachio exports compared to the previous year.

Furthermore, the Herat Department of Agriculture and Livestock has noted a significant rise in the pistachio harvest this year. The department revealed that more than 7,000 tons of pistachios have been harvested in the province this year.

Statistical data shows that over 90% of the country's pistachios are sourced from the wild forests of Herat, Badghis, and several northern provinces. #

# Norwegian Charge d'Affaires Meets with Acting Minister of Economy

In the meeting, Peer Albert Alsas, the Norwegian Charge d'Affaires, commended the Islamic Emirate's management and implementation of Afghanistan's economic programs as a significant achievement over the past three years, despite the challenges posed by economic sanctions, asset freezes, and the suspension of international development aid. He further...ContP#4

# 4,000 Households in Farah Gained Access to Electricity, Enhancing Local Livelihood





Officials from the Farah Electricity Company have announced that, following the Taliban's return to power, 4,000 households in the province have been connected to the electricity grid.

The Operations Manager...ContP#4

# Afghanistan's Cotton Production Surges to 159,000 Tons Across 15 Provinces



The National Statistics and Information Authority has conducted its first-ever comprehensive survey on cotton production across 15 provinces this year. Findings from the survey indicate that the total cotton yield has reached 159,000 tons.

Statistical analysis demonstrates a 30% increase in cotton production compared to the previous year. Among the leading...ContP#4

# Afghanistan and Kazakhstan Engage in Talks to Address Trade Challenges

The Acting Minister of Industry and Commerce, Haji Nooruddin Azizi, held a meeting with the Ambassador of the Republic of Kazakhstan, Giziz Akbasov, in Kabul to address key issues...ContP#4

# Over $6 Million Investment in Darae Noor Marble Project in Kandahar



The Acting Minister of Mines and Petroleum, Mullah Hidayatullah Badri, and the Deputy of Amioglu Turkish Company, Musa Amioglu, have officially signed the contract for the Darae Noor Marble Project in Kandahar in a ceremony held in Kabul...ContP#4

# Qush Tepa Canal Project: 87% of Excavation and 75% of Dam...

...excavation, and the construction of bridges along the canal's route.
In the course of the visit, Mawlawi Ahmad Jan Bilal underscored the significance of the Qush Tepa Canal Project, describing it as one of Afghanistan's most important and strategic initiatives for water management and the mechanization of agriculture.
Mawlawi Bilal also commended the leadership of the National Development Company, praising the progress achieved in the region, which he noted surpassed expectations.
Abdul Rahman Atash, the CEO of the National Development Company, expressed his gratitude to Mawlawi Ahmad Jan Bilal for personally overseeing the ongoing work on the Qush Tepa Canal Project.
In his remarks, Mr. Atash reassured the Afghan people that the Qush Tepa Canal Project is advancing rapidly, with full compliance to the required standards, and is being executed efficiently by Afghan engineers.
It is noteworthy that 87% of the excavation for the second phase of the Qush Tepa Canal has been completed, 75% of the dam construction has been finalized, and the construction of seven bridges along the canal's path is progressing swiftly. #

# Acting Minister of Public Works Signs Contract for 31.6 km...

...small bridges along its length. The route begins at Qala Amir in Dara Tang and passes through the areas of Alwazi, Dugh Abad, Sholok, and Babos, ultimately connecting to Pul-e-Alam, the capital of Logar province. The construction is set to be completed within 16 months.
The first phase of the road, covering 17.4 kilometers, has been contracted to Ichco Construction Company for an amount of 47,388,492.7 Afghanis, while the second phase, extending 14.2 kilometers, has been awarded to Tabish Omid Construction and Road Building Company for 23,944,837.8 Afghanis.
In addition, the Acting Minister recently signed contracts for five survey and detailed design projects for the Herat-Kandahar railway line, valued at approximately 264 million Afghanis. #

**Editorial: By: Hashmat Nasiri**

# New Khairkhwah Market: A Landmark Commercial Project in the Heart of Kabul

New Khairkhwah Market is one of the most prominent commercial projects in the heart of Kabul, established to offer an enhanced shopping and business experience for Afghan citizens and entrepreneurs. Strategically located on Nader Pashtun Road, this state-of-the-art complex has rapidly emerged as a vital commercial hub within the capital.
This commercial complex was built through a Public-Private Partnership (PPP) with an investment of approximately $34 million on an area of over 9,361 square meters.
The complex comprises approximately 1,300 retail outlets and offices, a parking facility with a capacity for 1,800 vehicles, a mosque accommodating up to 1,800 worshippers, a restaurant, green spaces, and dedicated recreational and sports areas. The structure, spanning nine floors, designates two levels for parking, while the remaining seven floors accommodate offices and retail spaces.
The construction of this complex began after the re-establishment of the Islamic Emirate in Kabul and was completed after nearly three years. According to a decision by the Cabinet of the Islamic Emirate of Afghanistan, the project will remain under private sector ownership for 30 years before being transferred to the government. On February 11, 2025, New Khairkhwah Market was officially inaugurated in a prestigious ceremony attended by senior officials of the Islamic Emirate of Afghanistan, cabinet members, high-ranking private-sector representatives, national entrepreneurs, investors, and representatives from various organizations. During the inauguration, officials underscored the project's significance as a paragon of effective collaboration between the public and private sectors. Islamic Emirate officials reaffirmed that sustainable economic growth and national development are intrinsically linked to the progress and expansion of the private sector. They emphasized the Emirate's unwavering commitment to fostering an investment-friendly environment by providing facilitations and incentives that stimulate commercial activities.
Senior figures from the private sector, along with national investors and business leaders, expressed their appreciation for the Islamic Emirate's support in cultivating a more favorable investment climate. They underscored their commitment to further investments and the implementation of similar commercial projects in Kabul and other provinces. Several high-ranking officials, including Mawlawi Abdul Salam Hanafi, Deputy Prime Minister for Administrative Affairs, Mawlawi Abdul Manan Omari, Acting Minister of Labor and Social Affairs, and Dr. Mullah Abdul Wasi Khadem, Chief of Staff of the Prime Minister's Office, delivered addresses, reiterating that private-sector growth remains a cornerstone of national economic progress. They further emphasized the government's steadfast commitment to supporting business development and foreign and domestic investments in Afghanistan.
Officials highlighted that the successful completion of this project serves as a benchmark for constructive cooperation between the public and private sectors, demonstrating that strategic partnerships can yield substantial and tangible economic benefits. In addition, they noted that priority has been granted to shopkeepers and entrepreneurs who previously suffered financial losses due to fire incidents, ensuring their reintegration into the commercial landscape. According to officials, New Khairkhwah Market is a major project that has created numerous job and economic opportunities for Afghan citizens. The successful execution of such large-scale projects reinforces Afghanistan's emergence as an attractive destination for investment and business activities. In closing, officials expressed their profound gratitude to all individuals and organizations involved in the execution of this pivotal project. They further called upon Afghan traders and investors to seize emerging opportunities, contribute to national development, and play an instrumental role in Afghanistan's economic resurgence. With its contemporary architectural design, adherence to international construction standards, and state-of-the-art facilities, New Khairkhwah Market is poised to become one of Kabul's premier commercial and shopping destinations, offering an unparalleled experience for businesses and visitors alike. #

# Afghanistan and Kazakhstan Engage in Talks to...

...concerning bilateral trade relations.
During the discussion, both parties reviewed the establishment of a business center for Afghan traders in Almaty, the implementation of agreements between the business communities of both nations, opportunities for Kazakh investment in Afghanistan, and the facilitation of visa issuance for Afghan traders by the Kazakh Embassy in Kabul.
The meeting concluded with a focus on identifying pathways to resolve the trade challenges faced by businesses from both countries, aiming to strengthen bilateral commercial cooperation. #

# 4,000 Households in Farah Gained Access to Electricity,...



...of the Farah Electricity Company, Salahuddin, reported that electricity has now been supplied to residents in five districts of Farah City. Furthermore, the installation of an additional transformer is expected to extend electricity access to six more districts in the near future.
According to the authorities, the provision of electricity in Farah City has had a significant positive impact on both the daily lives and economic activities of the local population. #

# Afghanistan's Cotton Production Surges to 159,000...

...cotton-producing provinces, Helmand recorded the highest output at 80,000 tons, followed by Balkh with over 34,000 tons, Kandahar exceeding 11,000 tons, Jawzjan at approximately 11,000 tons, and Nangarhar with over 5,000 tons.
For the first time, the National Statistics and Information Authority has utilized remote sensing technology to accurately map the land under cotton cultivation. The survey results confirm that 105,000 hectares of farmland have been allocated for cotton cultivation across the country.
As a key export commodity, cotton holds significant economic value. In the previous year alone, the country exported cotton and cottonseed worth $273 million, contributing substantially to the national economy. #

# Over $6 Million Investment in Darae Noor Marble...





...This ten-year contract involves an investment of $6.2 million by the company, which will be allocated for standard exploration, extraction, and processing operations. During the signing event, the Acting Minister emphasized that, since the Taliban's return to power, the Ministry of Mines and Petroleum has successfully concluded multiple contracts for the exploration and development of various marble mines, all of which are progressing with complete transparency and efficiency.
The Deputy of Amioglu Company remarked on the company's 50 years of experience in the extraction and processing of marble, oil, and gas. He further assured that, following production and processing, Afghan marble will be introduced on the international market, and efforts will be made to secure specialized buyers.
It is noteworthy that the launch of this project will create hundreds of job opportunities and deliver a range of social services to the local population. #

# Norwegian Charge d'Affaires Meets with Acting Minister...

...assured the continuation of humanitarian assistance to the Afghan people.
Abdul Rahman Habib, the spokesperson for the Ministry of Economy, stated that during the meeting, the Norwegian envoy reaffirmed his country's commitment to sustaining aid to Afghanistan. The Acting Minister of Economy expressed gratitude for Norway's humanitarian support and emphasized the need for the international community and development organizations to prioritize and intensify their focus on assistance for vulnerable populations and affected regions.
This meeting takes place amidst a growing trend of diplomatic engagement between the Islamic Emirate and several countries over the past three years. #

## وزارت فوایدعامه قرارداد ۳۱.٦ کیلومتر سرک اتصالی میدان وردک و لوگر را با...



...محترم الحاج ملا محمد عیسی ثانی، سرپرست وزارت فوایدعامه قرارداد ساخت ۳۱.۶ کیلومتر سرک اتصالی میان ولایات میدان وردک و لوگر را به ارزش بیش از ۷۱۳ میلیون افغانی در دو بخش با دو شرکت ساختمانی و سرک سازی امضاء نمود.

سرک اتصالی میان ولایات میدان وردک و لوگر ۳۱.۶ کیلومتر طول دارد که در امتداد آن، اعمار ۱۲۰ پایه پلچک نیز شامل می باشد.

این سرک از قلعه امیر دره تنگی آغاز و از مناطق الوزی، دوغ آباد، شولک و بابوس عبور کرده و به پل علم مرکز ولایت لوگر وصل می‌شود. کار ساخت این سرک در مدت ۱۶ ماه تکمیل خواهد شد.

بخش اول این سرک ۱۷.۴کیلومتر طول دارد که قرارداد اعمار آن با شرکت ساختمانی ایچکو به ارزش ۴۷۳۸۸۴۹۲۷ افغانی امضاء شده است. بخش دوم این سرک ۱۴.۲کیلومتر طول دارد که قرارداد اعمار آن با شرکت ساختمانی و سرک‌سازی تابش امید به ارزش ۲۳۹۴۴۸۳۷۸افغانی امضاء شده است.

این در حالی است که سرپرست وزارت فواید عامه اخیراً قراردادهای پنج پروژه سروی و دیزاین تفصیلی خط آهن هرات – قندهار به ارزش حدود ۲۶۴ میلیون افغانی را با پنج شرکت خصوصی نیز امضاء نموده است.#

## د کډوالو ستونزو ته د رسیدګي عالي کمېسیون غونډه...



...په دې غونډه کې لومړی د کډوالو ستونزو ته د رسیدګي عالي کمېسیون د موظفو کمېټو کړنې، اجرات او لاسته راوړنې وارزول شوې.

وروسته د بېلابېلو موضوعاتو لکه د کمېټو د کړنلارو، د زابل ولایت کډوالو او راستنو شویو ته د هغه ولایت د کډوالو ښارګوټي کې د ځمکې د وېش، د بېلابېلو ولایتونو کډوالو ته د ځمکې وېش، له کابل څخه اړوندو ولایتونو ته د بې ځایه شویو د لېږد او د ننګرهار ولایت بې ځایه شویو سره د مرستو په اړه د احکامو او فرامینو د څارنې او تعقیب لوی ریاست راپور په اړه بحث او هراړخیزه ارزونه ترسره شوه او په هغه اړه لازم تصمیمونه ونیول شول.#

## د قوش تېپې کانال د دویم فاز د کیندنې چارې ۸۷ سلنه او د سربند جوړولو...





...تېپې کانال پروژې اهمیت په ډاګه او دا یې د افغانستان د اوبو مدیریت او د کرنې میکانیزه کولو لپاره یوه له مهمو او ستراتېژیکو پروژو څخه وبلله.

محترم بلال په دې برخه کې د ملي پراختیا شرکت د رهبرۍ کړنې وستایلې او په سیمه کې ترسره شوي پرمختګونه یې له تمې څخه لوړ یاد کړل. دغه راز د ملي پراختیا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس محترم عبدالرحمن عطاش د امارتي شرکتونو له لوی رئیس څخه مننه وکړه، چې د قوش تېپې ستر او ملي کانال د پروژې له روانو چارو څخه یې له نږدې لیدنه وکړه.

محترم عطاش د خپلو خبرو په ترڅ کې هېواد والو ته ډاډ ورکړ، چې د قوش تېپې ستر او ملي کانال چارې په ټولو اړینو معیارونو برابرې په خورا چټکۍ سره د افغاني انجنیرانو له لوري پرمخ روانې دي.

د یادولو وړ ده، د قوش تېپې ستر او ملي کانال د دویم فاز د کیندنې چارې ۸۷ سلنه او د سربند جوړولو چارې ۷۵ سلنه بشپړې شوې دي او همدارنګه د کانال په مسیر کې د ۷ پلونو جوړولو چارې هم په خورا چټکۍ سره روانې دي.#

## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت له آریانا افغان او کام ایر هوایي شرکتونو سره...



...د ارشاد، حج او اوقافو سرپرست وزیر محترم شیخ الحدیث نورمحمد ثاقب له آریانا افغان او کام ایر هوایي شرکتونو له مسئولینوسره د ۱۴۴۶ هـ ق کال سعودي عربستان ته د دیرش (۳۰) زره حاجیانو د لېږد او رالیږد تړون لاسلیک کړ.

دغه غونډه چې د ارشاد، حج او اوقافو سرپرست وزیر په مشرۍ جوړه شوې وه، پکې د دې وزارت د مقام مرستیال، مرکزي ریاستونو رئیسانو او علماوو د آریانا افغان هوایي شرکت رئیس مولوي عبدالولي صدیقي، د کام ایر هوایي شرکت مرستیال حاجي آتیلا کامګار او د یادو شرکتونو تخنیکي او مسلکي کارمندانو ګډون کړی وو. په یاده غونډه کې د ارشاد، حج او اوقافو وزیر وویل: الحمدلله سږکال هم د تېرو کلونو په څېر د حج دیني او ملي پروسه د الله په فضل او نصرت سره په ښه توګه پرمخ روانه ده.

نوموړي زیاته کړه، دواړه داخلي هوایي شرکتونه غواړي په دیني او ملي جذبې سره د حج دغه ملي پروسه مخته یوسي، ترڅو په دغه ستره دیني او ملي پروسه کې خپل مسئولیت په ښه ډول ترسره کړي. همداشان د ارشاد، حج او اوقافو وزیر وویل: د افغانستان اسلامي امارت هوډ لري چې افغانستان په مختلفو برخو کې په ځان بسیا کړي، لکه څنګه چې د حج په دغه ملي پروسه کې د حاجیانو لیږد او رالیږد زموږ داخلي شرکتونه ترسره کوي، په نورو بیلابیلو برخو کې هم هڅه کوو چې د ځان بسیاینې په لور ګامونه واخلو او هیله لرو، چې د نورو کلونو په څیر سږ کال هم حاجیان د منظم سکیجول له مخې سعودي عربستان ته انتقال او بیرته راستانه کړل شي.

ورپسې د اریانا افغان او کام ایر هوایي شرکتونو مسئولینو د ارشاد،حج او اوقافو وزارت له هلو ځلو او منظمو پروګرامونو څخه ستاینه وکړه او له خپل لوري یې د هر ډول ښه خدمت وړاندې کولو ژمنه وکړه او ویې ویل هیله لرو چې خپلو ټولو امکاناتو او شته ظرفیتونو ته په کتو حاجیانو ته هر ډول اسانتیاوې برابرې کړو او زیاته یې کړه: هڅه به وکړو چې له وزارت سره په همغږۍ د هیواد د ننه او بهر د حاجیانو د لیږد او را لیږد پروسه په ښه ډول مدیریت کړو او دواړه شرکتونه به د هېواد له څلورو پروازي زونونو او په سعودي عربستان کې په دواړو هوايي ډګرونو ( مدینه منوره او جده) کې حاجیانو ته ښه خدمتونه وړاندې کړو. دوی وویل: د حاجیانو لېږد او رالیږد تجارت او سوداګري نه، بلکې خپله دیني او ملي وجیبه ګڼو او په بشپړ توګه تخنیکي او عملیاتي چمتووالی ورته لرو.#

## د نوي خیرخواه سوداګریز مارکېټ د پرانیستي مراسمو کې د ریاست الوزراء اداري...

...د عامه او خصوصي مشارکت له لارې وشو چې د افغانستان اسلامي امارت اقتصاد محوره برنامو باندې د خصوصي سکتور د باور مهمه نمونه، له خصوصي سکتور څخه د اسلامي امارت د ملاتړ روښانه بېلګه او هیوادوالو ته د کار او سوداګرۍ د رونق او ځلېدا زمینې برابرول دي.

د ویلو ده چې نوی خیرخواه سوداګریز مارکېټ مجموع مساحت ۹۳۶۱ متر مربع او ۹ منزلونه چې ۲ منزله یې د وسایطو پارکینګ دی، جوړ شوی دی. د دې پروژې په جوړولو ۳۴ میلیون ډالر لګېدلي چې دا لګښت سن‌اسکای ګلوبل شرکت او د مارکېټونو د اورلګېدنې متضررینو ورکړی دی او د کرایو له بابته له مجموع عوایدو څخه ۳۰ سلنه امارتي ادارو او ۷۰ سلنه متضررینو او پانګوالو ته د ورکړې وړ ده.

د یادونې وړ ده ، په دې ملي پروژه کې ۱۳۰۰ دوکانونه اساسی او په عصري سیستمونو سنبال جوړ شوي چې زرګونه کسانو ته یې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره کړې او همدارنګه هغو ټولو کسانو ته چې د دې مارکېټ د اورلګېدنې پېښه کې زیانمن شوي وو، دوکانونه وېشل شوي دي.#

## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با شماری از شخصیت‌هایی که از خارج کشور...

...شخصیت های مذکور همچنان از مسئولین و بزرگان امارت اسلامی خواستند در زمینۀ تطبیق پروژه‌های انکشافی در نقاط مختلف کشور و ایجاد فرصت‌های شغلی برای شهروندان توجه ویژه نمایند.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با ابراز خرسندی از این دیدار، گفت که تأمین امنیت، فراهم سازی رفاه اجتماعی و رسیدگی به مشکلات مردم از مسئولیت‌های امارت اسلامی است و در این راستا از هیچ تلاشی دریغ نمی‌ورزد.

معاون اداری ریاست الوزراء به آنان اطمینان داد و گفت که افغانستان خانه مشترک همه افغان‌ها است و از تمامی بزرگان و شخصیت‌های کشور خواست در زمینۀ آبادی و ترقی کشور سهیم شده و با مسئولین همکاری نمایند.#

## د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس د چین ولسي جمهوریت...

...زیات شوی دی. تېر کال مو څه باندې یولس زره افغانانو ته د ویزې اسانتیاوې برابرې کړې چې له چین څخه لیدنه وکړي.

محترم الحاج ډاکټر ملا عبدالواسع وویل، څرنګه چې د چهارچنار مانۍ د چین هیواد په همکارۍ سره رغول شوې ده، ورته توګه امید لرو چې په نورو بنیادي رغاونو کې هم د اړتیا سره سم د اسلامي امارت له حکومت سره خپله همکارۍ او توجه جارې وساتل شي.

په کابل کې د چین سفیر زیاته کړه، په بامیانو کې د چین هیواد د بریښنا، په کندهار ولایت کې د روغتون او په تخار کې د امو د تېلو پروژو چارې روانې دي. د واخان لارې پرانیستې سره چین کومه ستونزه نه لري او د امنیتي اندېښنو د اساسي حل په صورت کې به په بېلابېلو برخو کې لا ډېر پرمختګونه رامنځته شي.

د ریاست الوزراء مقام د دفتر لوی رئیس محترم الحاج ډاکټر ملا عبدالواسع په پای کې وویل، اسلامي امارت د امنیت په برخه کې جدي دی او له همدې امله په ټول هیواد کې سراسري امنیت تامین دی. د چین هیواد د ګډې همکارۍ سره سم به د واخان لارې له پرانیستلو سره به د دواړو هیوادونو ترمنځ راکړه ورکړه او تګ راتګ زیات او په دغه مسیر کې امنیت لا ښه شي.#

## ټولګټو وزارت: په روان کال کې د سړکونو د جوړولو او...

...اچونې کار بشپړ شوی، د سالنګونو لویې لارې د اساسي رغونې چارې دوام لري، د کندهار- ارزګان لویې لارې د لومړي لاټ په چارو کې ۴۴ سلنه پرمختګ شوی او د ترینکوټ – دهراود، دشت ارچي – کندز او کندهار- سپین بولدک سړکونو د رغونې چارې هم جریان لري.

د محترم فاتح په وینا، د کابل – غزني، کابل – جلال اباد لویو لارو د دویم لین سړکونو او د هرات – چشت شریف سړک د جوړولو او ترمیم چارې جریان لري. د دې تر څنګ، د میدان وردګ-لوګر د نښلونکي سړک چې څه باندې ۳۱ کیلومتره اوږدوالي لري د رغولو تړونونه د شاوخوا ۷۱۳ میلیونه افغانیو په ارزښت له دوه شرکتونو سره لاسلیک شوي او رغنیزې چارې به یې د ۱۶ میاشتو په موده کې بشپړې شي. دغه راز د کابل- هرات پر لویه لاره د ۱۴ محرابه جوماتونو د جوړولو چارې هم دوام لري.

د یاد خبري کنفرانس په جریان کې د قیصار- لامان حلقوي سړک، د پنځمې برخې، چې ۶۱ کیلومتره اوږدوالی لري، د ۲۵ کیلومتره سړک د رغونې تړون د څه باندې ۱.۴ میلیارده افغانیو په ارزښت له یوه خصوصي شرکت سره لاسلیک شو.

د ټولګټو وزارت تخنیکي مرستیال د خپلو خبرو په دوام وویل: د ګیزاب پل چې څه باندې ۱۱۰ متره اوږدوالی او نېږدې ۹.۵ متره پلنوالي لري په اساسي ډول جوړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوی او د کونړ ولایت د زېړي بابا او پشد پلونو، په سمنګان ولایت کې د ملا علي پل او په ننګرهار ولایت کې د سپین خوړ پل د جوړولو چارې دوام لري.

د یاد وزارت مسئولینو د معلوماتو له مخې، دغه وزارت د روان کال د ژمي په موسم کې د سالنګونو او ماهیپر په ګډون د هېواد په ۲۸ ولایتونو کې له څه باندې ۷۵۷۲ کیلومتره سړکونو څخه د واورې پاکولو پلان لري.

د ټولګټو وزارت د شمېرو له مخې، د روان کال په لس میاشتو کې (له حمل څخه تر جدي) د اوسپنې پټلۍ د څلورو مسیرونو (حیرتان، آقینې، تورغونډۍ او خواف-هرات) له لارې شاوخوا ۳.۵ میلیون مټریک ټنه انتقالات ترسره شوي دي.#

ارگ پانه

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء لوړ مقام
د دفتر عمومي ریاست
د عامه او ستراتیژیکو اړیکو معاونیت
د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

# د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس د چین ولسي جمهوریت سفیر سره وکتل

د ریاست الوزراء مقام د دفتر لوی رئیس محترم الحاج ډاکټر ملا عبدالواسع د افغانستان لپاره د چین ولسي جمهوریت سفیر ژاو شینګ سره په ارګ کې وکتل.

د ریاست الوزراء مقام د دفتر لوی رئیس په کابل کې د چین سفیر ته د ښه راغلاست ترڅنګ له افغانانو او حکومت سره د چین هیواد د مرستو یادونه وکړه او وې ویل، افغانستان او چین له پخوا راهیسې نږدې او پراخه اړیکې لري.

نوموړي زیاته کړه، چین لومړنی هیواد و چې د اسلامي امارت سفیر یې ومانه او افغانستان ته یې خپل سفیر راواستاوه چې دا د دواړو هیوادونو د ښو اړیکو ښودنه کوي، هیله ده چې چین ولسي جمهوریت د اسلامي امارت په رسمیت پېژندلو کې هم خپلې هڅې و نه دریغوي.

د افغانستان لپاره د چین ولسي جمهوریت سفیر وویل، د چین او افغانستان مناسبات له پخوا څخه ښه دي او له ۲۰۲۱ کال را وروسته په کې لا ښه والی راغلی. چین تل په نړیوالو سازمانونو او غونډو کې د افغانستان ملاتړ کړی.

نوموړي زیاته کړه، د چین او افغانستان ترمنځ سوداګري، صادرات او واردات او د خلکو تګ راتګ...

۵

# ټولګټو وزارت: په روان کال کې د سړکونو د جوړولو او ترمیم برخه کې ګڼې پروژې پیل شوي دي





د ټولګټو وزارت مسئولینو د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د کړنو او لاسته راوړنو په اړه له رسنیو سره معلومات شریک کړل.

د ټولګټو وزارت تخنیکي مرستیال، محترم مولوي عبدالکریم فاتح په یاد خبري کنفرانس کې وویل: ټولګټو وزارت د سړکونو جوړولو، ترمیم او بیارغونې برخه کې ګڼې پروژې پیل کړي، چې د ځینو پروژو چارې بشپړې او د یو شمېر نورو جریان لري.

ښاغلي فاتح زیاته کړه: د کابل- کندهار لویې لارې د څه باندې ۴۳۰ کیلومتره سړک د لومړۍ او دویمې طبقې د سفالت...

۵

# د ناروې شارژدافیر په کابل کې پر ډیپلوماټیکو اړیکو خبرې وکړې

د بهرنیو چارو وزارت سرپرست محترم مولوي امیرخان متقي د ناروې له شارژدافیر پیر البرټ الساس سره په کتنه کې، د سیاسي، اقتصادي او بشرپاله مسایلو په اړه خبرې کړې دي.

بهرنیو چارو وزارت ویلي، چې د ناروې سفارت له شارژدافیر سره یې د مثبت تعامل، ډیپلوماټیکو اړیکو د پراختیا، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او امنیتي وضعیت په تړاو خبرې کړې دي او په افغانستان رامنځته شویو فرصتونو ته په نغوتې سره ویلي، چې اسلامي امارت له نړۍوالې ټولنې سره له مثبت تعامل او د متقابل درناوي پر بنسټ اړیکو هرکلی کوي. په دې کتنه کې د ناروې شارژدافیر د افغانستان امنیتي وضعیت ښه او د مخدره موادو توکو پر وړاندې د اسلامي امارت مبارزه اغېزناکه بللې ده.#

# د اداري کمېسیون غونډه ترسره شوه

د اداري کمېسیون غونډه د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ او د دې کمېسیون د محترمو غړو په ګډون ترسره شوه. په دې غونډه کې لومړی موظفو کمېټو د یاد کمېسیون له لوري د ورسپارل شویو دندو په اړه د خپلو کړنو او اجراتو راپور وړاندې کړ. وروسته د عامې روغتیا، مالیې، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارتونو ، د چاپېریال ساتنې ملي ادارې او د کانکور ازموینې د تخصصي کېدو او د هغې د شرایطو د څرنګوالي په اړه بحث او هراړخیزه څېړنه وشوه او د یادو موارد په اړه لازم تصمیمونه ونیول شول.#

# تولید سالانه ۱۵۹هزار تُن پنبه از پانزده ولایت کشور

اداره ملی احصائیه و معلومات طی سال روان برای نخستین بار سروی پنبه در ۱۵ ولایت کشور را انجام داده است که براساس آن در مجموع ۱۵۹ هزار تُن پنبه تولید شده است.

آمار نشان می‌دهد که در مقایسه به سال گذشته ۳۰ درصد در تولید پنبه افزایش بوجود آمده، چنانچه هلمند با تولید ۸۰ هزار تُن، بلخ با بیش از ۳۴هزار تُن، قندهار با بیش از ۱۱ هزار تُن، جوزجان حدود ۱۱ هزار تُن و ننگرهار با بیش از ۵هزار تُن پنبه از ولایاتی‌اند که بیش‌ترین تولید را داشته‌اند.

اداره احصائیه و معلومات با استفاده از تکنالوژی ریموت سنسنگ، ساحات تحت کشت پنبه را برای بار نخست در سال روان تثبیت نموده که بر اساس آن ۱۰۵هزار هکتار زمین در کشور پنبه کشت شده است.

پنبه یکی از اقلام مهم صادارتی کشور شمرده شده که تنها در سال گذشته به ارزش ۲۷۳ میلیون دالر امریکایی پنبه و پنبه‌دانه به بیرون کشور صادر شده است.#

# دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با شماری از شخصیت‌هایی که از خارج کشور عودت نموده اند

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با جمعی از شخصیت‌هایی که از بیرون کشور عودت نموده اند، دیدار کرد.

در این دیدار ابتدا آنان با یادآوری از زحمات و تلاش‌های مسئولین امارت اسلامی در زمینهٔ تأمین امنیت سرتاسری و رسیدگی به مشکلات مردم، ابراز خرسندی کردند.

آنان افزودند که فراهم بودن رفاه و آسایش اجتماعی در کشور باعث برگشت دوبارهٔ شخصیت‌های زیادی به وطن گردیده است و این بدون شک از جمله دستآوردهای امارت اسلامی به حساب می‌آید...

۵

# د ناروې شارژدافیر د اقتصاد وزارت له سرپرست سره وکتل

په کتنه کې، د ناروې له شارژدافیر پیر البرټ الساس د اقتصادي بندیزونو د دوام، د هېواد د شتمنیو له کنګل کېدو او د نړۍوالې ټولنې لخوا د پراختیایي مرستو له بندېدو سره سره، په تېرو درېیو کلونو کې د افغانستان د اقتصادي پروګرامونو مدیریت او پلي کول د اسلامي امارت له مهمو لاسته راوړنو وبلل او افغانانو ته یې د خپل هېواد د بشري مرستو د دوام ډاډ ورکړ. د اقتصاد وزارت ویاند عبدالرحمن حبیب د دغې کتنې په هکله وایي: د ناروې د سفیر په کتنه کې له افغانانو سره د خپل هېواد د مرستو له دوامه ډاډ ورکړ او د اقتصاد وزیر، د ناروې د بشرپاله مرستو د ستاینې ترڅنګ، اړمنو کسانو او زیانمنو سیمو ته د نړۍوالې ټولنې او د مرستندویه بنسټونو د پراختیایي مرستو د ډېر تمرکز غوښتنه وکړه. دا په داسې حال کې ده، چې په تېرو څه باندې درېیو کلونو کې یو شمېر هېوادونو له اسلامي امارت سره خپلې ډیپلوماټیکې اړیکې پراخې کړې دي.#

# وزارت داخله: هیچ گروه تهدیدآفرینی در افغانستان وجود ندارد

وزارت امور داخله، ضمن رد نگرانی‌های سازمان‌های بین‌المللی، تأکید می‌ورزد که در افغانستان هیچ گروهی که امنیت این کشور و جهان را تهدید کند، وجود ندارد.

عبدالمتین قانع سخنگوی این وزارت، وضعیت امنیتی افغانستان را در مقایسه با یک دهه گذشته بی‌سابقه می‌داند. او می‌افزاید که فعالیت‌های کوچک و پراکنده گروه‌های هراس‌افگن، در خارج از مرزهای افغانستان و در کشورهای منطقه سازمان‌دهی شده‌اند.#

# هلمند؛ د څه باندې ۱۵ میلیونه افغانیو په لګښت د یوه سړک د پخولو چارې پیل شوې



د هلمند ولایت د مرکز لښکرګاه ښار اړوند په شپږمه ناحیه کې د څه باندې ۱۵ میلیونه افغانیو په لګښت د مهاجرینو او مختار معلمینو د دوهم فاز سړک د پخولو چارې پیل شوې دي. د لښکرګاه ښاروالۍ مسئولین وایي، چې دغه پروژه د ښاروالۍ ریاست له انکشافي بودیجې څخه د ۱۵ میلیونه ۳۸۶ زره ۹۰۴ افغانیو په لګښت د ۱۳۰۰ متره په اوږدوالي او د ۸ متره په سور سره جوړېږي. د مسئولینو په وینا، د یاد سړک د درېیم فاز چارې به هم ډېر ژر پیل شي. د سیمې اوسېدونکو د یادې پروژې په پلي کېدو خوښي ښودلې او وایي، چې د دغه سړک په جوړېدو سره به یې د تګ راتګ ستونزې حل او په ترانسپورټي برخه کې به ورته ګڼې اسانتیاوې برابرې شي.#

# د نوي خیرخواه سوداګریز مارکېټ د پرانیستې مراسمو کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال ګډون او وینا

د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د نوي خیرخواه سوداګریز مارکېټ د پرانیستې مراسمو کې ګډون او وینا وکړه.

په دغو مراسمو کې چې د اسلامي امارت د کابینې غړو او مشرانو هم حضور درلود، د ریاست الوزراء اداري مرستیال لومړی د نوي خیرخواه سوداګریز مارکېټ د کار په بشپړېدو خوښي ښودوه او د دې سوداګریز مرکز ګټې اخیستنې ته سپارل یې په هیواد کې د سوداګرۍ او پانګونې د ودې او پراختیا لپاره مهم ګام وباله.

محترم مولوي عبدالسلام حنفي زیاته کړه، دا یو روښانه حقیقت دی چې د یو هیواد پراختیا او پرمختګ په هغه هیواد کې سوداګریزې ودې او د خصوصي سکتور ملاتړ پورې اړه لري، له دې امله اسلامي امارت کوښښ کوي چې اقتصاد، سوداګري او په ځانګړې توګه خصوصي سکتور په واقعي مانا وده وکړي او د دې برنامو یوه نمونه له خصوصي سکتور سره د نوي خیرخواه سوداګریز مارکېټ ترون دی چې په یوه ډېره عالي فضا کې یې تاجرانو او دوکاندارانو ته د ښه فعالیت زمینه برابره کړه او نن ټول د هغه د پرانیستې شاهدان یوو.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال څرګنده کړه، د نوي خیرخواه سوداګریز مرکز ترون لومړنۍ او لویه پروژه ده چې د فتحې په لومړیو ورځو کې...

۵